Australian Government
Immigration Assessment Authority

# هغه څه چې تاسې باید د مهاجرینو د ارزونې د ادارې په هکله وربانديې وپوهېږی

## د مهاجرینو د ارزوني اداره(IAA) څه کوي؟

د مهاجرینو د ارزوني اداره د *کال ۱۹۵۸ د مهاجرت (کډوالی)*(د قانون) پر بنسټ جوړه شوې ده. زمونږ اداره یوه خپلواکه اداره ده چې د مهاجرت او د سرحدونو د ساتني د چارو د وزیر ځینو پریکړو ته په ګرندی توګه د بیا کتنو صلاحیت لري.
دا هغه پرېکړې دي چې د هغو پر بنسټ د مهاجرینو وزیر د فاسټ ټرک (په ګرندی توګه) د غوښتنلیک د درلودونکو کسانو د پناه غوښتني وېزې رد کړې دي. که چېرې تاسو د ۲۰۱۲ کال د اګسټ په ۱۳ مه یا وروسته او د ۲۰۱۴ کال د جنوری د لمړی نېټې څخه مخکې د قانوني ویزې د لرلو څخه پرته په کیښتی کې استرالیا ته راغلي یاست، تاسو د فاسټ ټریک د غوښتنلیک درلودونکي یاست، او د وزیر لخوا تاسو ته دا اجازه درکړل شوې وي نو کولی شئ چې د پناه غوښتني د ویزې د تر لاسه کولو لپاره په استرالیا کې غوښتنلیک ورکړئ. همدا راز کېدای شي چې تاسو د فاسټ ټرک د غوښتنلیک د درلودونکو د کسانو د جملې څخه یاست کوم چې د وزیر له خوا څخه ځانګړي شوي دي.

د فاسټ ټرک د جملي څخه ځیني غوښتنلیک وړاندې کوونکي کېدای شي ددې مستحق نه وي چې د IAA لخوا د بیا کتنې وړتیا ولري. که تاسو د ساتني *(خوندیتوب)* ویزه رد شوې وي، د کورنیو چارو وزارت (وزارت) به تاسو ته ووایي چې آیا تاسو د IAA لخوا د بیا کتني مستحق یاست او کنه.
د مهاجرینو د ارزوني اداره د فاسټ ټرک د غوښتنلیک د درلودونکو غوښتنلیک د بیا ارزوني لپاره نه مني. که چېرې تاسو د فاسټ ټرک د غوښتنلیک درلودونکي یاست او ستاسو غوښتنه د پناه غوښتني د ویزې د ترلاسه کولو لپاره نه وي منل شوې او ستاسو غوښتنلیک د بیا ارزوني مستحق وي، وزارت به په اتوماتیک ډول ستاسو کېس (قضیه) مونږ ته راواستوي.

## د مهاجرینو د ارزوني اداره څۀ ډول پریکړې کولی شي؟

د مهاجرینو د ارزوني اداره دوه ډوله پرېکړې کولی شي. مونږ د وزارت د پرېکړې سره موافقه کولی شو چې تاسو ته یې د پناه غوښتني ویزه نه ده درکړې، او یا هم کولی شو چې ستاسو کېس د زیاتې پاملرني لپاره وزارت ته واستوو، د بېلګې په توګه، مونږ ته څرګنده شي چې تاسو کډوال یا مهاجر یاست. د مهاجرینو د ارزوني اداره دا واک نلري چې د پناه غوښتني ویزه ورکړي.

مونږ به یوازې هغه معلومات په پام کې نیسو چې د وزارت سره د ردولو د پرېکړې په مهال موجود وو. په ځینو ځانګړو حالاتو کې پرته د هغې نه کېدای شي نوي معلومات تر غور لاندې ونیول شي.

که ستاسو کېس د وزارت له خوا څخه د مهاجرینو د ارزوني ادارې ته استول شوی وي، مونږ به په مستقیمه توګه د خپلې پرېکړې او د هغې د دلیل په هکله له تاسو سره اړیکي ونیسو او تاسو به خبر کړو.

د پناه غوښتني د ویزې لپاره معیارونه د مهاجرت په قانون کې شته دي. په زیاتره کېسونو کې اصلي موضوع داده چې آیا ته په رښتیا مهاجر *(کډوال)* یې، یا که تا د استرالیا څخه کوم بل هېواد ته واستوي، هلته به د کوم په ریښتیا سره تاسې د لوی زیان څخه وځوریږې.

که ستاسو د ویزې په غوښتنلیک کې د کورنی نور غړي هم شامل وي، مونږ به کوښښ وکړو چې ستاسو پر کېسونو باندې یوځایي کار وکړو.

## بیا کتنه به څومره وخت ونیسي؟

څرنګه چې ټول کېسونه یو شان ندي، نو دا مشکله ده چې وویل شي چې بیا کتنه به څومره وخت ونېسي. د مهاجرینو د ارزوني اداره کوښښ کوي چې زیاتره کېسونه د شپږو اونیو په ترڅ کې وارزوي. خو بیا هم د ارزوني وخت د حقایقو د څرنګوالي سره تړاو لري.

Australian Government
Immigration Assessment Authority

## د مهاجرینو د ارزونې اداره زما د کېس په هکله څه معلومات لري؟

وزارت به ستاسو د کېس په تړاو ټول هغه اسناد چې وزارت يې ستاسې د کيس په هکله اړوند ګڼي د مهاجرينو د ارزونې ادارې ته ورکړي. پدې کې هغه ټول اسناد شامل دي چې تاسو د پناه غوښتنې د ويزې د تر لاسه کولو لپاره د غوښتنليک سره وزارت ته ورکړي دي. په عمومي توګه، مونږ به يوائې د مهاجرينو د ادارې پرېکړې د هغو معلوماتو پر بنسټ بيا وارزوو چې د وزارت له خوا ورکړل شوي دي.

## زه کولی شم چې د مهاجرینو د ارزونې ادارې ته نوي معلومات ورکړم؟

مونږ يوائې هغه وخت نوي معلومات ارزولی شو چې ځانګړي حالات يې د ارزونې لپاره وړ څرګند کړي.
نوي معلومات هغه معلومات دي چې د کېس سره تړاو ولري او د وزارت د پرېکړې د کولو څخه دمخه موجود نه وو.
که تاسې غواړئ چې مونږ ستاسو نوي معلومات تر ارزونې لاندې ونيسو، تاسو بايد دا ووايئ چې ولې دا معلومات:

- مخکې د هغې نه چې وزارت ستاسو د پناه غوښتنې د ويزې د ردولو په هکله خپله پرېکړه وکړي وزارت ته ندي ورکړل شوي، يا
- هغه داسې د منلو وړ ريښتني شخصي معلومات دي چې که وزارت ورباندې پوهېدلی وای، د وزارت پر پرېکړه به يې تاثير کړی وای.

دا تشريح بايد د ۵ مخونو څخه ډير نه وي او هغه نوي معلومات چې تاسو يې راکوي بايد پکې شامل وي.

په ياد ولرئ:

- تاسو بايد دا تشريح کړئ چې دا نوي معلومات ستاسو د کيس سره څرنګه اړوند دي.
- که تاسو د خپل هيواد په اړه راپورونو او يا د رسنيو راپورونو ته مراجعه کوی، نو تاسو بايد د هغې سرچينه معلومه کړئ
- تاسو بايد موږ ته د راپور يوه کاپي يا د هغې خلاصه هم چمتو کړئ. مونږ د هغو راپورونو فهرست او يا د انټرنټ لينکونه چې په عام ډول موجود دی نه منو.
- هر هغه اسناد چې تاسو يې مونږ ته را استوی او په انګليسي ژبه نه وي بايد د NAATI اعتبار لرونکي ژباړونکي لخوا په انګليسي ژبه ژباړل شوي وي. که چيرې ژباړه ونکړل شي کيدای شي چې مونږ داسې اسناد له پامه وغورځوو.

هر هغه نوي معلومات چې مونږ يې غوښتنه نه ده کړې، مونږ ته ستاسې د قضيې د راجع کولو څخه د ۲۱ ورځو په موده کې ته وسپارل شي.

په ډېرو محدودو حالاتو کې کېدای شي، له تاسو څخه وغواړو چې د خپل کېس په هکله مونږ ته نوي معلومات يا توضيحات په ليکلې بڼه راکړی او يا يې هم په مرکه کې راته ووایاست.

## زه کولی شم چې د مهاجرینو د ارزونې ادارې ته اسناد وسپارم؟

تاسو کولی شئ چې ددې موضوعاتو په هکله ليکلي اسناد وسپارئ:

- تاسې ولې د وزارت د پرېکړې سره موافق نه ياست، او يا
- کومه غوښتنه يا موضوع چې تاسې وزارت ته وړاندې کړې وي او هغې ته پاملرنه نده شوې.

ستاسو سپارښتنه بايد خلاصه وي. او بايد د ۵ پاڼو څخه ډېر نه وي او مونږ ته بايد د وزارت لخوا ستاسې د قضيې د راجع کولو څخه د ۲۱ ورځو په موده کې وسپارل شي.

Australian Government
Immigration Assessment Authority

## زه کولی شم هغو معلوماتو ته لاسرسی ولرم  چې د مهاجرینو د ارزوني ادارې له خوانه سره ساتلي دي؟

تاسو کولی شئ چې د ۱۹۸۲ کال د معلوماتو د آزادۍ د قانون پر بنسټ هغو ټولو معلوماتو ته لاس رسی وموموئ چې د مهاجرینو د ارزوني ادارې ستاسو د کېس په تړاو له خوانه سره ساتلي دي. خو ځینې محدودیتونه هم شته دي.

که مونږ ونه شو کولی چې تاسو ته ځینې معلومات ښکاره کړو، موږ به تاسو ته خبر درکړو چې ولې. مونږ به تاسو ته ووایو چې تاسو څرنګه زمونږ د هغې پرېکړې په اړه چې تاسو ته د اسنادو د نه لاسرسي په هکله شوي ده، د بیا ارزوني غوښتنه کولی شئ. معلوماتو ته د لاسرسي لپاره نور جزئیات په www.iaa.gov.au ویبپاڼه کې موجود دي.

## د مهاجرینو د ارزوني اداره به څرنګه زما سره اړیکې ونیسي؟

د مهاجرینو د ارزوني اداره به په عمومي توګه د برېښنالیک له لارې ستاسي سره اړېکې ونیسي. مونږ کولی شو چې ستاسي سره د ټیلیفون له لارې هم اړېکه ونیسو.

تاسو کولی شئ چې اړونده لیکونه په خپله تر لاسه کړې او یا کوم بل څوک وټاکئ ( دا کس به ستاسو د لیکونو د ترلاسه کولو صلاحیت لرونکی و پېژندل شي). که تاسو د لیکونو د ترلاسه کولو لپاره کوم صلاحیت لرونکی کس وټاکئ، مونږ به ستاسو ټول اړونده لیکونه هغهٔ ته ور استوو.

که تاسي د وزارت د لیکونو د ترلاسه کولو لپاره بل کس ټاکلی وي، دا ټاکنه د مهاجرینو د ارزوني ادارې د بیا ارزوني سره تړاو نلري. که تاسي بل کس ستاسو د لیکونو د تر لاسه کولو لپاره مونږ ته راپېژنئ، تاسو باید د هغه نوم او د اړیکې د نیولو پته  مونږ ته ووایاست.

که ستاسي د اړیکې نیولو معلومات بدلیږي ژر تر ژره به مونږ ته دا تغیرات وایاست او که تاسي صلاحیت لرونکی کس لری چې ستاسي لیکونه ترلاسه کولای شي، او د هغوی په معلوماتو کې کوم بدلون راځي نو مونږ ته ژر تر ژره خبر راکړئ. تاسي باید د خپلو لیکونو د ترلاسه کولو لپاره صلاحیت لرونکي شخص ( که یې لری) او وزارت ته د هر راز بدلون او تغیراتو په هکله خبر ورکړئ.

تاسو کولی شئ چې د دې برېښنالیک iaa@iaa.gov.au له لارې او د ټیلیفون په ۱۸۰۰۲۰۵۹۱۹ شمېره زمونږ سره اړیکې ونیسئ.

## مشوره، مرسته او استازیتوب

د مهاجرینو د ارزوني د ادارې مقررات په ساده ډول جوړ شوي او د کېسونو د پایلو راځرګندېدل په دې پورې اړه نلري چې تاسو مسلکي مشورې یا مرستي ترلاسه کړې او کنه. خو بیا هم تاسو کولی شئ چې د ګڼ شمېر ادارو او ځانګړو اشخاصو مشورې او مرستي تر لاسه کړئ. مونږ د هېچا او نه د کومي مشورې ورکوونکي ادارې ملاتړ یا سپارښتنه کوو.

تاسو باید د وکیلانو د ټاکلو په وخت کې پام وکړئ، او ورڅخه پوښتنه وکړئ چې تاسي ته ووایي چې آیا هغوی د کډوالی ثبت شوي نمایندګان دي، استرالیایي وکیل دی، او یا په قانوني توګه ستاسو سره مرسته کولی شي.

د مهاجرت د وکیلانو یا استازو د نوم لیکني د ادارې د دفتر ( www.mara.gov.au ) ویبپاڼه په بېلا بېلا  ژبو کې د مهاجرت د وکیلانو د پیدا کولو او د هغې څخه د ګټې اخیستنې په هکله معلومات لري. په همدې ویبپاڼه کې تاسو کتلای شئ چې ستاسو د نظر وکیل راجستر دی او که نه.

د استرالیایي وکیل (حقوق پوه) د پیدا کولو او د هغې څخه د ګټې پورته کولو لپاره معلومات د هغه ایالت او سیمې په مسلکي قانوني ادارو کې شته چې زمونږ په ویبپاڼه کې درج شوي دي (www.iaa.gov.au).

د مهاجرینو د ارزوني د ادارې سره په تعامل کې بل څوک هم ستاسي استازیتوب کولی شي. ستاسو استازی کولی شي چې زمونږ سره اړیکه ونیسي او ستاسو د کېس د اسنادو په تړاو چې زمونږ سره دي، هغو ته د لاسرسي غوښتنه وکړي. په عمومي توګه ټاکل شوی کس هم ستاسو استازی او هم ستاسو د اسنادو د ترلاسه کولو صلاحیت لرونکی کس دی. تاسي باید مونږ ته فوراً خبر راکړئ که تاسي کوم وکیل یا استازی ټاکلی وي.

Australian Government
Immigration Assessment Authority

## كه زه شكايت ولرم نو څرنګه كولای شم؟

ک تاسو د مهاجرينو د ارزونې د اداري د وړاندې شوو خذمتونو د معيار په هکله کومه تبصره يا شکايت لرئ، مهرباني وکړئ د شکايت د درج کولو لپاره زمونږ په ويبپاڼه (www.iaa.gov.au) کې لارښوونه وګورئ.